وزیرستان: د سولې او پرمختګ دښمنانو ترهګرو بزدلانه برید ناکام کړي شو

امنیتي ځواکونو د شمالي وزیرستان او جنوبي وزیرستان په بیلا بیلو سیمو کې د ټي ټي پي بریدونه ناکامه کړي دي۔

د تفصیلاتو ترمخه د شمالي وزیرستان د غلام خان پولې سره نزدې په ټریک باندې د سړک جوړونې کار باندی تعینات سیکیورټي اهلکارو باندی د آمن او ترقیۍ نه خوفزده ټي ټي پي ترهګرو لخوا په نښه شوي وو۔ د برید مشر یو افغان ترهګر و، چې نوم یې د سیکیورټي وجوهاتو له کبله پټ ساتل شوي۔ د ډزو په تبادله کې درې ترهګر وژل شوي او دوه ژوبل شوي دي، خو شپږ امنیتي کسان شهیدان شوي دي۔

بل لوري ته دشمالي وزیرستان په ګړیوم سیمه کې دامنیتي ځواکونو دعملیاتو په مهال دترهګرو سره د ډزو په تبادله کې یو اهلکار شهید شوی اؤ دیو شمیر ترهګرو دوژنې راپورونه هم ترلاسه شوي دي۔

په یوه بله پیښه کې دجنوبي وزیرستان په تیارزه سیمه کې دامنیتي ځواکونو دمعمولي ګزمې په مهال دترهګرو سره د ډزو په تبادله کې یو اهلکار شهید شوی اؤ ګڼ شمیر ترهګرو په ژوبل حالت کي تښتیدلي دي۔

خوارج د سولې او هم د ولس د پرمختګ او اقتصادي ثبات دښمنان دي او هڅه کوي هره هغه پروژه په نښه کړي چې پرمختګ ته لاره هواره وي، ولس دغه تکفیري فکر ردوي او د سولی او پرمختګ لپاره د سیکیورټي ادارو سره ولاړ دي۔